## سره میاشت په هرځای د هر چا لپاره

# د سره صلیب او سری میاشتې نړیوال غورځنګ شالید (تاریخچه)

International Federation
of Red Cross and Red Crescent Societies

ICRC

۱۳۹۷

## د افغاني سرې میاشتې ټولنې تاریخچه

د لومړي ځل لپاره د هیواد په تاریخ کې په ۱۳۰۸ لمریز کال کې د کابل بلدیې(ښاروالی) په هڅه د کابل په عمومي بڼ کې د هیواد د ټولو اقشارو او خیرپالو خلکو په ګډون یوه غونډه جوړه شوه، چې د سلا مشورو په پایله کې د ((مرکزامداد اولیه)) په نوم د یوې کوچنی خیرپالې ټولنې بنسټ کیښودل شو. په دې غونډه کې د هیواد ټولو اقشارو ځخه شل کسه،د غړي په توګه او محمد ابراهیم خان ددې بنسټ د ریئس په توګه وګمارل شو. ددې ټولنې د رامنځته کولو ځخه موخه هغو خلکو ته مرسته وه چې د طبیعي پیښو له امله زیانمن کیدل چې ترځنګ یې نورو اړمنو خلکو سره هم مرسته کوله. ددې بنسټ د پیاوړتیا لپاره د وخت پادشاه محمد نادر شاه دیرش زره افغانی له خپلې شخصي شتنمی ځخه مرسته وکړه ترڅو ټول هیوادوال دا شان خیرپالنې ته تشویق او وهڅوي تر څو له دې نوي رامنځته شوې ټولنې سره مرسته وکړي. په ۱۳۱۱ لمریز کال کې، په لاهه کې  د سره صلیب او سرې میاشتې نړیوال غورځنګ  کنفرانس د غوښتني پربنسټ، د افغانستان له دولت ځخه یې په هیواد کې د سرې میاشتې ټولنې د رامنځته کولو غوښتنه  وشوه، مرکز امداد اولیه د محراب احمر په نوم خپل نوم بدل کړ او د مالیې وزارت په چوکاټ کې یې فعالیت کاوه.

سره میاشت په ۱۳۱۳ لمریز کال کې چې د ۱۹۳۴ م کال سره

سمون لري د عامې روغتیا وزارت څخه جلا او خپلواکي یې ترلاسه کړه، په حقیقت کې د ملي ټولنې د تاسیس کال ۱۳۱۳ لمریزکال ښودل شوی دی.
د سرې میاشتې لپاره په ۱۳۳۰ کال کې اساسنامه ترتیب شوه او په دې توګه د ملي ټولنې د رسمیت پیژندنې لپاره د غورځنګ شرایط پوره کړل چې له امله یې په ۱۹۵۴/۹/۲ نیټه کې د سره صلیب نړیوالې کمیټې لخوا په رسمیت و پیژندل شو او په ۱۹۵۴/۱۱/۱۱ نیټه کې د ملي ټولنو نړیوال فدراسیون لخوا د غړي په توګه ومنل شوه.

## د سره صلیب او سرې میاشتې نړیوال غورځنګ شالید

په کال ۱۸۵۹ م ځوان سویسيِ سوداګر هانری دونانت د سوداګریزو چارو د ترسره کولوله پاره د ایتالیا هیواد ته سفر کاوه چې یوې ناورې او کرغیړنې پیښې سره مخامخ شو هغه دا چې دده د راتګ سره سم د ایتالیا هیواد د سولفرینو په سیمه کې د فرانسوی - ایتالیایي ځواکونه له یوې خوا او له بلې خوا د اتریشي ځواکونو ترمنځ خونړي جګړه پیل شوې وه. ددې جګړې په پایله کې څلويښت زره مړي او ټپیان د جګړې په ډګر کې پاتې وو. فوځي روغتیایي ټیمونو د ټپیانو د ډیروالي له امله نشو کولای څو هغوي ته روغتیایي مرستې ورسوي په پایله کې د هرې ګړۍ په تیریدو سره زیات شمیر ټپیانو خپل ژوند له لاسه ورکاوه.

نومـوړي ټپیـان د هـر انسـان پـه لیـدو سـره پـه التمـاس او زاري د مرسـتو تمـه کولـه، هـرې خـوا د ټپیانـو د ویـر او فریـاد نـارې پورتـه کیـدې ، دوې د ژونـد او مـرګ ترمنـځ پـه نـاوړه حالـت کـې پراتـه وو. ددغـې غمجنـې صحنـې پـه لیـدو سـره د هانـرې دونانـت انسـاني احساسـات او عواطـف را وپاریـدل چـې پـدې توګـه هغـه د خپـل ماموریـت نـه لاس پـه سـر او د ټپیانـو پـه درملنـه کـې بوخـت شـو.

دونانـت د سـالفرینو د کلـي د عامـو خلکـو څخـه وغوښـتل تـر څـو پـه دې انسـاني کار کـې لـه هغـه سـره مرسـته وکـړي همـدا وه چـې پـه لمـړي ځـل د روغتیایـي خدمتونو د ترسـره کولـو لپـاره رضـاکار ګروپونـه چمتـو شـول.

کلـه چـې هانـرې دونانـت د ټپیانـو لـه درملنـې څخـه خـلاص او بیرتـه سـویس تـه راسـتون شـو، د سـالفرینو د جګـړې د ټپیانـو نـاوړه حالـت هغـه هـر وخـت ځـوراوه، لـه همـدې املـه وه چـې د سـالفرینو د یاددښـت تـر عنـوان لانـدې یـې کتـاب ولیکـه او پـه دې کتـاب کـې دسـالفرینو د غمیـزې سـربیره دوه ارزښـتناکه وړاندیزونـه هـم وړانـدې کـړل:

لومـړي وړاندیـز یـې داوه چـې ( آیـا دا امـکان نلـرې چـې دسـولې پـه وخـت کـې رضـاکاران وروزل شـي تـر څـو دغه رضـاکاران د جګـړې پـه وخـت کـې د ټپیانـو پـه درملنـه

کې بوخت شي ).
دوهم وړاندیز یې داوه چې ( باید داسي قوانین رامنځ ته شي تر څو هغه رضاکاران چې د جګړې په ډګر کې د ټپیانو په درملنه کې بوخت دي ترحمایت لاندې ونیسي او پر هغوی برید ونشي).
هانری دونانت دغه کتاب د اروپایي هیوادونو دحکومتونو واکدارانو او پیژندل شویو خیرو ته ولیږد، او له دی امله چې دهغه دواړو وړاندیزونو معقولیت درلود ټولو ته د منلو وړ وګرځید.
په پایله کې د دې لومړي وړاندیز دسره صلیب او سرې میاشتې د ملي ټولنو د رامنځ ته کیدو لامل شو او دوهم وړاندیز یې د جینوا د قراردادونو یا د جګړې د نړیوال قانون د رامنځ ته کیدو سبب وګرځید.
له بله پلوه تردې وړاندې د جینوا په ښارکې یوه وړوکې خیریه ټولنه (د ټولنیزو چارو د پاره د جینوا ټولنه ) په نامه جوړه شوي وه ، نوموړې ټولنې د دونانت د نظریاتو د پلي کیدو لپاره یو پنځه کسیز کمیسیون وټاکه، د نوموړی کمیسیون د خبرواترو په پایله کې (د جګړې د قربانیانو د پاره د مرستې کمیټې) په نامه د خیریه ټولنې د بنسټ ډبره کیښودل شوه. چې وروسته د سره صلیب د نړیوالې کمیټې یا ( آی

سـی ارسـی ) پـه نامـه ونومـول شـوه.
وروسـته د نومـوړي کمیټـې بنسـټ ایښـودونکو هـوډ ونیـو تـر څـو د هانـری دونانـت نظریـات د عمـل پـه ډګـر کـې پلـې کـړی. همـدا وه چـې د دوي د هغـو غوښـتنو پـه وړانـدې چـې لـه اروپایـې هیوادونـو څخـه یـې کـړې وې د ١٦ هیوادونـو او څلـورو بشـرپالو موسسـو اسـتازو پـه هغـه نړیـوال کنفرانـس کـې چـې د ١٨٦٣ م کال د اکتوبـر د میاشـتې پـه ٢٦مـه د جینـوا پـه ښـار کـې جـوړه شـوه ګـډون وکـړ، پـه کنفرانـس کـې پـه سـپین متـن د سـره صلیـب نښـان د مشـخصه نښـان پـه توګـه پـه تصویـب ورسـید او پـه دی توګـه پـه سـپین متـن کـې د سـره صلیـب نښـان رسـمی بڼـه پیداکـړه.
پـه کال ١٨٦۴ م کـې د سـویس دولـت د جګـړې پـه ډګـر کـې د ټپیانـو د درملنـې او د سـره صلیـب او دهغـه آرمانونـو د پیژندنـی پخاطردیپلوماتیـک کنفرانـس دجینـوا پـه ښـارکې جوړکـړ چـې پکـې د (١٢) هیوادونـو اسـتازو ګـډون درلـود او د جینـوا لومـړی لوظنامـه ( د جګـړې پـه ډګرکـې د ټپیانـو ملاتـړ) یـې پـه تصویـب ورسـاوه چـې دغـه قانـون د جینـوا د ١٩۴٩ کال قراردادونـو اود هغـه سـره مـل د ١٩٧٧ پروتوکولونـو ( چـې د جګـړې د نړیـوال قانـون پـه نامـه هـم یادیـږي ) د منـځ تـه راتلـو لامـل شـو.

په نامه هم ياديږي ) د منځ ته راتلو لامل شو.
له هماغه وخت راهيسي د نړي په ټولو هيوادونو کې د سره صليب او سرې مياشتې د ملي ټولنې تاسيس پيل شو چې تردې دمه زمونږ د هيواد په ګډون په (۱۹۰) هيوادونو کی دسره صليب او سرې مياشتې ملي ټولنې تاسيس شوې او په بشرپالو فعاليتونو کی بوختې دی. چې دا ملی ټولنې، دسره صليب نړيواله کميټه او د ملی ټولنونړيوال فدراسيون د سره صليب اوسرى مياشتى نړيوال غورځنګ تشکيلوی.

## د سره صليب او سرې مياشتې ملي ټولنو نړيوال فدراسيون

د سره صليب او سرې مياشتې ملي ټولنو نړيوال فدراسيون د لومړی نړيوالې جګړې د پای څخه وروسته په ۱۹۱۹زيږديز کال کې د پاريس په ښار کې، د سره صليب او سرې مياشتې ټولنو د ليګ تر عنوان لاندې، تاسيس شو. ځکه چې جګړې د دغو ملي ټولنو ترمنځ د همکاريو اړتيا ښودلې وه.
پردې مهال،هنري داويسن د امريکې د سره صليب رئيس وړانديز وکړ چې فدراسيون دې له دغو ملې

ټولنو څخه جوړ شي د داويسن په نوښت يو نړيوال کنفرانس جوړشو چې په پايله کې يې د سره صليب او سرې مياشتې ملي ټولنو اتحاديه ( ليګ ) رامنځ ته شو چې د ١٩٨٣ کال په اکتوبر کې د سره صليب او سرې مياشتې ټولنو په ليګ او وروسته د ١٩٩١په نوامبر کې د سره صليب او سرې مياشتې د ټولنو نړيوال فدراسيون باندې نوم بدل کړ.

## د سره صليب او سرې مياشتې نړيوال غورځنګ بنسټيز اصول

**١. بشرپالنه:** د سره صليب او سرې مياشتې نړيوال غورځنګ، د جګړې د ډګر ټپيانو ته له تبعيض څخه پرته د مرستې رسونې هيلې پر بنسټ رامنځته شوې. په خپل ملي او نړيوال ماموريت کې هڅه کوي ترڅو بشري رنځونه او دردونه په هرځای کې چې وي مخنيوی او را کم کړي. موخه يې د انسان د ژوند روغتيا او هغه ته د درناوي د تامينولو ملاتړ دی. دا غورځنګ د خلکو ترمنځ متقابله پوهيدنه، دوستي، همکاري او تلپاتې سولې ته، پراختيا ورکوي.

**٢. ناپيیلتوب:** دا غورځنګ مليت، توکم، طبقې، دينې او مذهبي عقايدو او سياسي نظرياتو ته امتياز نه ورکوي او هڅه کوي ترڅو د خلکو درد او رنځ د هغوی د اړتياوو او بيړنيو مصيبتونو ته د لومړيتوب ورکولو په پام کې نيولو سره تسکين ورکړي.

**٣. ناپلوي:** د ټولو د باور د ترلاسه کولو او خوندي ساتلو لپاره، دا غورځنګ په شخړو کې د هيڅ يوه لوري پلوي نه کوي او په سياسي، توکميز،ديني او مذهبي او ايډيالوژيکو تاوتريخوالو کې خپل ځان نه ښکيلوي.

**٤. خپلواکي:** دا غورځنګ خپلواک دی. سره له دې چې ملي ټولنې په بشرپالو خدمتونو کې د خپلو حکومتونو مرستندوی او د خپلو متبوع هيوادونو د قوانينو تابع دی، تل بايد خپله خپلواکي وساتي. نو په دې

بنسټ هڅوی به وتوانیږي چې هر مهال د غورځنګ د اصولو سره سم عمل وکړي.

**۵. د خپلې خوښې خدمتونه:** سورصلیب او سره میاشت یو د خپلې خوښې مرستندوی غورځنګ دی او له هیڅ کومې لارې څخه د ګټې په لټه کې نه دی.

**۶. یووالی:** په هر هیواد کې کولای شي یواځې د سره صلیب او سرې میاشتې یوه ملي ټولنه شتون ولري. دا ټولنه باید د ټولو پرمخ خلاصه وي، خپل بشرپال خدمتونه په ټول هیواد کې پر مخ یوسي.

**۷. نړیوالتوب:** د سره صلیب او سرې میاشتې نړیوال غورځنګ، چې په ټولو ټولنو کې د یوشان مقام لرونکي دي او یو بل سره په مرسته کې یوشان دندې او مکلفیتونه په غاړه اخلي، نړیوال دی.

## د افغاني سرې میاشتې ټولنې نښان

د سرې میاشتې نښان د دې ټولنې د هویت او پیژندګلوي ښکارندوی دی ، دا نښان (سره میاشت) په سپینه ځمکه کې قرار لري چې د طبیعي آفتونو ،د جګړې قربانیانو ، ناروغو او اړو خلکو ته د بې توپیره مرسته رسونې نښه او سمبول بلل کیږي .

د ســرې مياشــتې نښــان د درنــاوي وړ نښــان دی، دا نښــان سياســي، ايدیالوژيکــي او مليتــي بڼــه نلــري، دا نښـان د پيژندنـي اوملاتـړ( حمايـت) لپـاره کارول کيـږي ځکـه د ســرې مياشــتې کارکوونکــي، رضـاکاران، وسـايط او تاسيســات پــه دې نښــان مزيــن شــوي ترخــو دوی پــه آســانه توګــه پــه نــاوړو حالاتوکــې د پيژندګلــوی وړ وي . ســره مياشــت د طبيعــي پيښــو او جګــړې پــه وخــت کــې د زيانمنــو ملکــي خلکــو د مرســتې او لاس نيــوي لپــاره د خپـل مکلفيـت پـر بنسـټ، بـې لـه کومـې ګټـې او امتيـاز ترلاســه کولــو نــه مخکښ رول لوبــوي، کــه چيــرې ددې ټولنــې کارکوونکــي پــه داســې حالاتــو کــې د پيژنــد ګلــوي وړ نــه وي او د نښــان ملاتړيز قانــون څخه‌چــې د جينــوا پــه څلورګونــو قــرار دادونــو او ورســره مــل پروتوکولونــو کــې د هغــه يادونــه شــوې برخمن نــه وي خونديتــوب نـه رامنځتـه کيـږي، کلـه چـې د دوی خونديتـوب تضميـن نـه وي دوی پـه ډاډه زړه خپـل بشـرپال فعاليـت پـه سـمه توګــه نشــي ترســره کــولای چــې پــه پايلــه کــې هغــه مصيبــت ځپلــي او محتــاج خلــک چــې مرســتې تــه اړتيــا لـري بـې برخـې کيـږي او د دوی ژونـد لـه لويـو ننګونـو او

کړاوونـو سـره مخامـخ کیـږي.

د سـرې میاشـتې پـه نښـان بانـدې مزیـن شـوی شـخص یـا شـیانو تـه زیـان رسـول پـه اصـل کـې اړ او محتاجـو خلکـو تـه د خدمـت او مرسـتې څخـه مخنیـوی دی چـې بایـد تـرې ډډه وشـي.

کـه چیـرې کـوم شـخص، سـازمان یـا ډله د سـرې میاشـتې لـه نښـان څخـه نـاوړه ګټـه اخلـي تـا سـو کـولای شـئ د سـرې میاشـتې کارکوونکـي، رضـاکاران، غـړي یـا دفتـر تـه خبـر ورکـړئ ترڅـو ددې نـاوړه کار څخـه مخنیـوی وشـي، میاشـتي د مقاماتـو د لـزوم دیـد او اجـازې پـر بنسـټ

د سـرې میاشـتي لـه نښـان څخـه نـاوړه ګټـه اخیسـتنه ددې ټولنـــې باور تـه زیـان رسـوي، د جینـوا دقراردادونـو پـر بنسـټ د سـرې میاشـتې لـه نښـان څخـه یـوازې د دې ټولنـې کارکوونکـي او رضـاکاران، پوځـي روغتیایـي کارکوونکـي او نـور هغـه سـازمانونه چـې د سـرې میاشـتې سـره ورتـه دنـده لـري پـه اسـتثنایي حالاتـو کـې د سـرې میاشتې د چارواکو په اجازه او لازم ګڼلو پر بنسټ یـوازي د سـرې میاشـتې نښـان څخـه البتـه پرتـه لـه کومې

لیکنې استفاده کولای شي اوبس.

د سره صلیب او سرې میاشتې نړیوال غورځنګ د اسنادو پر پلي کیدو باندې د نښان د پخواني تاریخ څخه څرګندیږي چې د لومړي ځل لپاره په ۱۸۶۳ کال کې د جنیوا په نړیوال کنفرانس کې د سره صلیب نښان په سپینه ځمکه کې چې د سویس هیواد د نښان معکوس دی، د غورځنګ بنسټ ایښودونکي ته د درناوي پخاطر چې د هغه هیواد تبعه دی، د جګړې ټپیانو ته د مرستندویو ټولنو(ملي ټولنې) د ځانګړي نښان په توګه ومنل شو. او په ۱۸۶۴ کال کې د سره صلیب نښان د سیاسي کنفرانس له لارې د پوځي روغتیایي خدمتونو د ځانګړي نښان په توګه، د ۱۸۶۴ کال د جینوا د لومړي قرارداد د تصویب ترځنګ د تائید وړ وګرځید.

د ۱۸۷٦کال په بالکان جګړه کې عثماني امپراطورۍ پریکړه وکړه،د سرې میاشتې نښان چې د عثماني خلافت د نښان معکوس دی، د سره صلیب د نښان پرځای وکاروي.

دغــه وړاندیــز د غورځنــګ پــه نړیــوال کنفرانــس کــې د تائیــد وړ وګرځید،لــه هغــه وروســته ځینــو هیوادونــو د خپلــو ملــي ټولنــو لپــاره د ســرې میاشــتې نښــان غــوره کــړ.

د ســرې میاشــتې نښــان لــه ۱۳۱۳ لمریــز کال  څخــه راهیســې، کــه څــه هــم څــو ځلــه یــې بڼــې او انــدازه یــې بدلــون موندلــی  خــو د ملــي ټولنــې د رســمي نښــان پــه توګــه رســمیت لــري. د ملــي ټولنــې نښــان ددې ټولنــې د هویــت د پیژندګلــوی  وســیله ده چــې د تشــخیص او ملاتــړ پــه موخــه تــرې ګټــه اخیســتل کیــږي. ملاتــړ پــه دې مفهــوم دی،کلــه چــې رضاکاران،کارکونکــي او د ملــي ټولنــې د خپلــې خوښــې خدمتونــو وســایط د جګــړې ټپیانــو تــه  ددې نښــان تــر ســیوري لانــدې د روغتیایــې مرســتو د وړانــدې کولــو لپــاره ورځــي، بایــد د وســله والــو ښــکیلو خــواوو تــر بریــد لانــدې رانــه شــي او د هغــوی د خدمتونــو د لارې خنــډ ونــه ګرځــي، نــو بایــد چــې  لــه هغــوی او وســایلو څخــه یــې ملاتــړ وشــي. تشــخیص پــه دې مفهــوم چــې شــخص،د لیــږد وسایل،تاسیســات،روغتیایي مرکزونه،زیرمــې او ګدامونــه چــې پــه دې نښــان مزیــن

شـوي وي، پـه ملـي ټولنـې پـورې تـړاو لـري. کـه نښـان د ملاتـړ لپـاره وکارول شـي،اندازه یـې لویـه او تـرې چاپیـره لیکنـه هـم نشـته ترڅـو لـه لیـرې سـیمو څخـه د لیـدو وړ وي،خـو پـه کوچنـۍ انـدازه تشـخیصي نښـان پـه (فلـزي سـرجیبي نښـان،بازوبند،په نښـان بانـدې مزیـن شـوي خولـۍ او واسـکټ)څخه کار اخیسـتل کیـږي.

د افغانـي سـرې میاشـتې ټولنـې دمؤقتـې اساسـنامې اوومې مـادې د ملـي ټولنـې د نښـان پـه اړه داسـې ویلـي دي:

۱- د افغانـي سـرې میاشـتې ټولنـه د ځانګـړي مهر او نښـان لرونکـې ده چـې پـه هغـه کـې سـره میاشـت پـه سـور رنګ پـه سـپینه ځمکـه کـې چـې د هغـه پـه پاسـنۍ برخـه کـې پـه پښـتو ژبـه (د افغانـي سـرې میاشـتې ټولنـه) او د هغـه لانـدې پـه دري ژبـه (جمعیـت هـلال احمـر افغانـي) د لینـدۍ پـه بڼـه او پـه تـور رنـګ لیـکل شـوي دي.

۲- د افغانـي سـرې میاشـتې ټولنـه د جنیـوا د څلورګونـو کنوانسـیونونو او ورسـره یوځـای شـویو پروتوکولونـو پربنسـټ مکلفـه ده ترڅـو دملـي ټولنـې د نښـان څخـه د سـمې ګټـې اخیسـتنې لپـاره یـوه ځانګـړې

کړنلاره(طرزالعمل) وضع کړي.

۳- د ملي ټولنې له نښان څخه د سمې ګټې اخیستنې کړنلاره ( طرزالعمل) د ملي ټولنې عمومي رئیس په سلا مشورې سره د ملي ټولنې د سکرترجنرال پواسطه چمتو او برابریږي.

له حمایوي او تشخیصي نښان څخه ناوړه ګټه اخیستنه، د غورځنګ د مرکبه وو له نښانونو څخه د ګټې اخیستنې د څرنګوالي په اړه د جنیوا د قراردادونو څخه سرغړاوی دی،ځکه له نښان څخه ناوړه ګټه اخیستنه د وسله والو نښتو پرمهال په عامه لیدلوري باندې ناوړه اغیزه او د هغه اهمیت او باور له منځه وړي.

د جنیوا د قراردادونو او ورسره مل پروتوکولونو پربنسټ چې دولتونه خپل ځان هغه ته ژمن بولي،د نښان سمه کارونه په لومړي قدم کې خپله دولتونو ته متوجه کیږي ترڅو درناوي یې وکړي،له نښان څخه ناسمه ګټه اخیستنه او سرغړونه له یوې خوا دولتونه

او د سـره صلیـب نړیوالـې کمیټـې او ملـي ټولنـې چاروا کـي او هغـه کسـان چـې لـه دغـه څخـه ناسـمه ګټـه اخیسـتې دیتـه یـې پـام را اړوي ترڅـو لـه دغـه کار څخـه لاس واخلـي. اوس مهـال پـه سـره صلیـب او سـرې میاشـتې نړیـوال غورځنـګ کـې درې ډولـه نښـانونه چـې عبـارت دي له:(سـور صلیب،سـره میاشـت او سـور کرسـټال) چـې درې واړه رسـمیت لـري او ورڅخـه کار اخیسـتل کیـږي.

## د سره صلیب او سرې میاشتې نښان

International Federation
of Red Cross and Red Crescent Societies

ICRC

نښـان د یوهیواد، ټولنې،سـازمان، شـرکت، شـخص او ګروپ د پیژندګلـوي نښـه بلـل کیـږي او دا کار د پخـوا زمانـو راهیسـې کارول کیـږي. د سـره صلیـب او سـرې میاشـتې نړیـوال غورځنـګ چـې یو بشـرپال نړیـوال غورځنـګ دی له درې مرکبـو څخـه: د سـره صلیـب نړیوالـه کمیټـه، د سـرو صلیبونـو او سـرو میاشـتو ملـي ټولنـو او د سـرو صلیبونـو او

سرو میاشتو ملي ټولنو نړیوال فدراسیون څخه تشکیل شوی. دا درې واړه مرکبې د خپلې پیژندګلوی لپاره ځانګړې نښانونه کاروي چې په لاندې توګه تري یادونه کیږي:

## ۱۸۵۹ زیږدیز کال:

هانري دونانت د سلفرینو جګړه په خپلو سترګو لیدلې وه، هغه چې په زر ګونه ټپي سرتیري هر ځای لویدلي، د روغتیایي نه پاملرنې له امله وار په وار د مرګ کومې ته تلل او د لوټ او تالان لاندې وو.

یوځې روغتیایي خارنو ددې وس نه درلود، چې دغه مهمه دنده په سمه توګه سرته ورسوي،د دغه کار یو لامل دیو ځانګړي ( واحد ) نښان نشتوالی و، چې په جګړې کې د ښکیلو اړخونو له خوا په آسانی سره پیژندل شوی وای.

## ۱۸۶۳ زیږدیزکال:

د جګـړې پـه ډګـر کـې د پوځـي روغتیایـي خارنـو د اغیـز منتـوب د لارو چـارو د موندلـو لپـاره پـه جینـوا کـې یـو نړیــوال کنفرانـــس جـــوړ شـــو، دې کنفرانـــس لـــه ټپـــي ســرتیرو ســره د مرســتې پــه موخــه د مرســتندویه ټولنــو، دســره صلیــب او ســرې میاشــتې د راتلونکــو ملــي ټولنــو د ځرګندولـو لپـاره پـه سـپینه ځمکـه د سـره صلیـب نښـان تصویــب کــړ.

۱۸۶۴م: د ژنیـــو لومـــړی لوظنامـــه تصویـــب شـــوه چـــې پــه هغــې کــې پــر ســپینه ځمکــه د ســره صلیــب نښــه، دیــوې پیژندونکــې نښــې پــه توګــه د وســله والــو ځواکونــو د روغتیایـــي خدمتونـــو د ځانګـــړې نښـــان پـــه توګـــه پـــه رســمیت و پیژنــدل شــوه.

## ۱۸۷۶ زیږدیزکال:

پــه بالــکان کــې د روســیې او ترکیــې د جګــړې پــه بهیــر کــې، عثمانــي امپراتــورې وپتیلــه، چــې د ســره صلیــب پــر ځــای پــر ســپینه ځمکــه ســره میاشــت وکاروي. همدارنګــه مصــر هــم د ســرې میاشــتې نښــان ومانــه. ایــران پــر ســپینه ځمکــه د شــیرو خورشـید سـرخ نښـه غـوره کـړه دغـو دولتونـو خپلـه غوښـتنه پـه تړونونـو کـې خونـدې کـړه او د پورتنیـو ټولنـو ځانګـړې نښـانونه د

۱۹۲۹م کال پــه ترونونــو کــې ومنــل شــول .

## ۱۹۴۹ زیږدیزکال:

د جنیــوا د ۱۹۴۹ کال د لومــړی تــړون ۳۸ مــادي د پوځــي روغتیایي خدمتونــو لپــاره پــر ســپینه ځمکــه د ســره صلیــب، ســرې میاشــتې او شیروخورشــید ســرخ نښــانونه تاییــد کــړل،پــه دې توګــه پــر ســپینه ځمکــه د ســرې میاشــتې او شــیرو خورشــید سرخ لــه نښــو پرتــه د پوځــي روغتیایــي خدمتونــو لپــاره نــورو ځانګــړو نښــانونو کارول منــع شــول.

## ۱۹۸۰ زیږدیزکال :

د ایــران اســلامي جمهوریــت د شــیر و خورشــید ســرخ د نښــان کارونــه پریښــوده او دهغــه پــر ځــای یــې د ســرې میاشــتې نښــان غــوره کــړ.

## ۱۹۸۲ زیږدیزکال:

دســرو صلیبونــو او ســرو میاشــتو ملــي ټولنــو فدراســیون د ســره صلیــب او ســرې میاشــتې دواړه نښــانونه د خپــل ځانګــړی نښــان پــه توګــه غــوره کــړل.

## د سـره صلیـب او سـرې میاشـتې نړیـوال غورځنـګ نړیوالـه ورځ

د مــي اتمــه چــې زیــات وخــت د غویــی میاشــتی ۱۸ مــی ســره ســمون خــوری د تاریــخ پــه کلیــز کــې د ســره صلیــب او ســرې میاشــتې نړیوالــې ورځــې پــه نامــه ثبــت شــوی ده.
د مــي اتمــه چــې د ســره صلیــب او ســرې میاشــتې نړیــوال

غورځنــګ بنســټ ایښــودونکي هانــری دونانــت د زوکــړې (۱۸۲۸-۱۹۱۰م) ســره ســمون لــری د غورځنــګ د نړیوالــی ورځــی تــر نامــه لانــدې هــرکال د غورځنــګ د درې واړو مرکبــو لخــوا د ځانګــړي شــعار لانــدې لمانځــل کیــږي.

د دې ورځــې د لمانځنــې موخــه د بشــري تاریخ د یوه سرښــندونکې کارنامــې یادونــه بلــل کیــږي او همــدا راز د غورځنــګ د بشــرپالو خدمتونــو څخــه د ملاتــړ ښــکارندوی دی او هــم د یــاد نړیــوال غورځنــګ بشــرپال هویــت نړیوالوتــه څرګنــدوی.

د افغانــي ســرې میاشــتې ټولنــه د غورځنــګ د فعــال غــړي پــه توګه هــر کال دا ورځ پــه مرکــزی دفتــر او ولایتــی استازولیو کــې د ځانګړیــو غونــډو پــه تــرڅ کــې د هیــواد ولسمشــر د ملاتړیــز پیــام او د ســرې میاشــتې عمومــی رییــس پیــام پــه لوســتلو ســره لمانځــي.

پــه هغــو غونــډو کــې چــې لــه همــدې املــه پــه مرکــز او ولایتونــو کــې جوړیــږي ګــڼ شــمیر مخــور کســان، ملــی ســوداګر، دولتــی کارکوونکــې او ملــی شــخصیتونه ګــډون کــوي چــې پخپلــو خبروکــې د افغانــی ســرې میاشــتې ټولنــې لــه بشــرپالو خدمتونــو څخــه ملاتــړ څرګنــدوی.

د اړیکې شمیرې:۰۷۲۸۹۰۰۱۰۳ / ۰۷۹۹۶۵۲۸۹۳

پوسټ بکس: ۳۰۶۶

برېښنالیک پته: **dis@redcrescent.af**

ویب پاڼه: **www.redcrescent.af**

**افغانستان، کابل، پنځمه ناحیه، افشار سیلو، د افغاني سرې**

**میاشتې ټولنې مرکزي دفتر**